PROPERTY OF ACKU

درس قرآن

کله چې شپېلۍ پوه کړی شي نو بیا به خپل منځي تولې اړیکې غوڅې او له یو بل نه به پوښتنه هم نه کوي. په هغه ورځ چې د هر چا تلې درنې شوې نو همغوی بریمن دي. او د چا چې تلې سپکې شوې نو خانونه یې تاواني، او تل به په جهنم کې پاتې وي، مخونه به یې په اور کې سوځي او تل به چینګ داړي وي. ورته به وویل شي چې آیا پر تاسو زما آیتونه نه وو لوستل شوي چې تاسو به درواغ ګڼل. (سورة المؤمنون: ۱۰۱ - ۱۰۵)

درس حدیث

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
په جهنم کې یوه داسې کنده ده چې له هغې نه پخپله جهنم هره ورځ څلور سوه څله پناه غواړي دا کنده د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت ریاکارو خلکو لپاره تیار کړی شوی ده. (مشکواة المصابیح)

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت دویم کال، ۹۵ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د سلواغه ۲۰ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الاول ۵ مه د۲۰۱۱ م د فبروری ۹ مه

اعلامیهٔ حزب اسلامی افغانستان

درین روزها دنیای اسلام، بویژه دنیای عرب، آبستن حوادث غیر مترقبه و در عین حال امیدوار کننده برای مسلمانان است. که هفتهٔ قبل ملت مسلمان تونس با راه اندازی تظاهرات ملیونی و شاندار بر حاکمیت ظالمانهٔ زین العابدین دیکتاتور مورد حمایت غرب در آن کشور پایان دادند و این بار اقشار و طبقات مستضعف و مسلمان مصری در همسایگی تونس بپا خاسته اند تا به عمر ننگین رژیم دیکتاتوری حسنی مبارک خاتمه بدهند. مبارک در روزهای نخستین قیام عمومی مردم مصر، برای فرو نشاندن خشم مردم اصلاحاتی را در کادرهای حکومت بمیان آورد و وعده داد که در آینده هم در قانون اساسی مصر تغییر می آورد و هم خودش در انتخابات سال آینده ریاست جمهوری اشتراک نمی کند. ولی خواست و آرمان مردم مصر با این وعده های میان تهی مبارک برآورده نگردید و با ادامه و گسترش تظاهرات در تمام شهرهای مصر، اعلان نمودند که به چیزی کمتر از استعفا و سقوط رژیم دیکتاتوری مبارک راضی نخواهند شد.

همنوایی و عدم تشدد نیروهای امنیتی مصر با تظاهر کنند گان، حاکی از آنست که رژیم مبارک در آستانه سقوط است و شخص مبارک نیز مانند زین العابدین در حال فرار؛ با سقوط رژیم او مصر به جایگاه اصلی اش در کنار کشورهای آزاد و

اسلامی بر می گردد و مسلمانان آن سرزمین دوباره بر سرنوشت خویش حاکم خواهند شد.

شبیه تونس و مصر در کشورهای فلسطین، اردن، لبنان، الجزایر، سوریه، یمن و سودان نیز موج تظاهرات غرض حمایت انقلابیون مصری و اسقاط رژیم های دیکتاتوری و غیر اسلامی در آن کشورها در حال گسترش است و امروزه از اندونیزیا تا المغرب، که زعما و سلاطین حاکم در بلاد اسلامی با دیدن و شنیدن حوادث مصر و تونس بخود می لرزند و انتظار مواجه شدن با سرنوشت زین العابدین بن علی و حسنی مبارک را می کشند.

توسل به شیوه هاي ظالمانه و غیر مردمی، فساد، وابستگی و ناکار آمدی، وضعیت بد اقتصادی و اسلام ستیزی، از عوامل مهم سقوط رژیم های دیکتاتوری می باشند و این عوامل در رژیم های حاکم در دنیای اسلام در هر کجای جهان که موقعیت داشته باشند، دیر و یا زود دامنگیر حکام زور گو، فاسد و وابسته خواهد شد.

حزب اسلامی افغانستان به عنوان یک حرکت پیشرو برای اقامهٔ نظام اسلامي در افغانستان، از قیام و حرکت تمامی جنبش های آزادیخواهانه در جهان حمایت می کند و بدینوسیله به ملت مسلمان مصر و سایر بلاد عربی، اطمینان می دهد که افغانها خود را درین رستاخیز عظیم اسلامی با شما شریک دانسته و برای به پیروزی رسانیدن انتفاضه به پا خاسته در سرزمین موسی علیه السلام همنوا، یار و مددگار انقلابیون مسلمان آن دیار می باشند.

شاه محمود قریشی:

افغانستان حق دارد با هر کشوری روابط دو جانبه داشته باشد

پاکستان، رسانه ها:

شاه محمود قریشی وزیر خارجه پاکستان می گوید، افغانستان به حیث یک کشور مستقل و دارای حاکمیت ملی حق دارد تا با هر کشوری که می خواهد دارای روابط دو جانبه باشد و اسلام آباد نمی تواند تا جلو کابل را بگیرد که با دهلی نو ارتباط نداشته باشد.

قریشی در مصاحبه با روزنامه گلف نیوز گفت، هند در امور انکشافی و بازسازی افغانستان کمک مالی می کند و او (پاکستان) نمی تواند جلو آن را بگیرد. اما به گفته وی آنها باید در ارتباط به نقش هند و پاکستان در افغانستان فرق قایل شوند و نقش هند را نمی توان با نقش پاکستان مقایسه کرد. وی گفته است احساس می کنند که پاکستان نسبت با هند با برادران خود در افغانستان بیشتر کمک کرده است.

وی در ارتباط به کمک پاکستان با افغان ها گفته است که آنها از سال های ۱۹۷۰ تا ۱۹۸۹ زمان اشغال افغانستان توسط اتحاد شوروی به افغان ها پناه دادند. به مجاهدین جا

بقیه در صفحه ۴

القاعده به ځامخا ماتېږي خو طالبان د افغاني ټولنې جز دي "اوباما"

امریکا، رسنۍ:

د امریکا ولسمشر بارک اوباما یو ځل بیا د القاعده شبکې پر ماتې ټینګار وکړ او وېې ویل چې طالبان به هیڅکله پرې نږدي چې بیا پر افغانستان کنټرول ولري.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما د متحدو ایالتونو له فاکس نیوز تلویزیون سره په مرکه کې د دې پوښتنې په ځواب کې، چې ایا امریکا به د افغانستان په لس کلنه جګړه کې بریالی شي، وویل: موږ ویلی شو چې القاعده ته به ماته ورکړو او طالبان به بیا افغانستان ونه نیسي.

اوباما همداراز ویلي چې سل په سلو کې هیڅ خبره نه شي کولی، خو داډه دی چې امریکایي پوځیانو د مسوولیت د نه منلو وړ برخه سرته رسولی دی.

د امریکا ولسمشر زیاته کړه، حاضردمه امریکایي پوځیان د دفاعي دریځ پرځای تهاجمي موقف لري او افغان امنیتي ځواکونو ته یې د امنیتي چارو د سپارلو پروسه پیل کړې ده.

افغانستان ته تېر کال د دېرش زره اضافي امریکایي پوځیانو له استولو سره د دغه هېواد په کندهار کې د نړیوالو ځواکونو عملیات تېز شوي او تر یوه حده یې پرمختګونه هم کړي دي.

د امریکا ولسمشرله طالبانو سره د تماسونو په اړه وویل، طالبان به د یوه عنصر په توګه په

پاتې ٤ مخ

د افغانستان لانجه یوازې د اعتماد له لارې حل کېدلې شي

دویم مخ

عوامل اصلی قیام مردم مصر علیه "حکومت آن کشور"

صفحه سوم

په شمال کې ملیشه ډلو د ګلم جم بدنامې ملیشې یادونه تازه کړل

دریم مخ

د مصر حکومت د اعتراضونو د پای ته رسولو په هڅه کې دی

مصر، رسنۍ:

د مصر حکومت په داسې حال کې په دې هېواد کې د تېرو دوو اونیو اعتراضونو د پای ته رسولو لپاره اقدامات پیل کړي، چې خلکو پرون بیا هم د مرکز قاهرې په تحریر چوک کې خپلو مظاهرو ته دوام ورکړ.

مظاهره چیانو بیاهم پر ولسمشر حسني مبارک غږ وکړ چې له قدرته دې لیرې شي.

د یکشنبې په ورځ حکومتي چارواکو د اخوان المسلمین ګوند په ګډون د مخالفینو له استازو سره وکتل.

پاتې ٤ مخ

د ناټو قومندان وایي ۹۰۰ وسله وال مخالفان حاضر شوي چې جګړه بس کړي

د ناټو یوه جګپوړي مقام د دوشنبې په ورځ وویل، شاوخوا نهه سوه وسله والو مخالفانو موافقه کړې چې وسله پرمځکه کښېږدي، خو دا لا ډېر وختي دی چې وویل شي له دې سره به د افغانستان د جګړې د پای ته رسېدو په برخه کې پرېکنده پرمختګ وشي او د ټیټې سطحې طالبان به له جګړې لاس واخلي.

تورنجنرال فلیپ جونز چې له مختلفو ډلو سره د سولې د هلو ځلو په برخه کې د افغانستان د حکومت د ملاتړ لپاره د ناټو د هڅو مشري کوي، وویل د سیمه ییزو وسله والو د جلب او جذب لړۍ له درو - څلورو میاشتو راهیسې په جدي ډول پیل شوې ده.

جونز په کابل کې خبریالانو ته وویل: "د هغو کسانو چې روغه جوړه کوي، شمېر زیات شوی، خو دا د سولې د ټینګښت د اوږدې پروسې لور ته لومړني ګامونه دي."

"خوبې له شکه له شل کاله جګړې او لس

پاتې ٤ مخ

گزینش رئیس ولسی جرگه باز هم بی نتیجه به پایان رسید

کابل، رسانه ها:

انتخابات ولسی جرگه برای گزینش رئیس این مجلس روز سه شنبه نیز بی نتیجه به پایان رسید.

در این انتخابات امان الله پیمان، مولوی

بقیه در صفحه ۴

امریکایي کارپوهان:

طالبان د جګړې د پای ته رسولو لپاره له القاعده بېلېږي

تاند:

له هغه راپور سره سم چې د دوشنبې په ورځ خپور شو، د افغان طالبانو مشران به ممکن وغواړي چې په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره له القاعده ځانونه رابېل کړي، خود امریکا پالیسي ځوان او په عین حال کې لا سخت دریځي جنګیالي زېږوي چې روغې جوړې ته لږ حاضر بداې شي.

په راپور کې، چې په کندهار کې مېشتو خبرونکوالکس ستریک وان، لینسکاټن فلیکس کوهین لیکلی او نیویارک پوهنتون

پاتې ٤ مخ

ګوئیدو وستروله:

هر کس که خواستار ثبات در افغانستان است، باید پس از سال ۲۰۱۴ نیز در افغانستان حضور داشته باشد

مونیخ، گران افغانستان:

وزیر امور خارجه آلمان در کنفرانس امنیتي مونیخ اعلام کرد که کشورش پس از خروج نیروهاي نظامي از افغانستان نیز همچنان در سطح امنیتي و سیاسي در این کشور حضور خواهد داشت

"گوئیدو وستروله" در سخناني با تمرکز بر مسئله افغانستان در آخرین روز کنفرانس امنیتي مونیخ اعلام کرد که آلمان تضمین مي کند که حمایت از افغانستان را در پروسهء دستیابي به دیموکراسي ادامه دهد.

براساس این گزارش، وستروله خطاب به

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ولسي جرگې! احساس، احساس د مسؤوليت احساس

بالاخره ولسي جرگې د ډول ډول آوازو، واقعيتونو او حقيقتونو وروسته د داخلي او بهرنيو فشارونو په نتيجه کې په کار پيل وکړ، د نوي رئيس د ټاکنې لپاره مؤقت رئيس وټاکل شو، تقريباً دوه اونی کېږي چې نوې ولسي جرگه د نوي رئيس د ټاکنې په دلدل کې گېره ده، تراوسه درې څله د وکيلانو ترمنځ ټاکنې ترسره شوې، خو هر څلې بې پايلې پاتې شوې.

لکه چې له نامه نه يې ښکاري ولسي جرگه د افغان ولس د ټاکليو استازو جرگه ده چې د اساسي قانون له مخې ددې مهمې او برخليک ټاکونکې دندې لري (د قوانينو تصويب، په اجرائيه قوه يا حکومت کې د قانون د تطبيق څارنه او د خپلو ولسونو د روا او حقه حقوقو صحيح ترجماني) ددې ترڅنگ د هر کال لپاره د دولت د مالي بوديجې تصويب او د کابينې وزيرانو ته رايې ورکول.

په اوس مهال کې ولسي جرگې ته دوه مهم کارونه په مخکې دي، چې دا يو خو يې ورته ان د پخوانی ولسي جرگې نه په ميراث پاتې دی او هغه يو شمېر سرپرست وزيران دي، چې له ولسي استحقاق پرته د وزارتونو چارې پرمخ بيايي، او بل يا دويم کار يې چې بايد ژر تر ژره يې سرته ورسوي د راتلونکی کال لپاره د مالي بوديجې پاس کول يا تصويب دی.

ولې په ولسي جرگه کې له روانو کړکېچونو او کړلېچونو (چې په هغې کې قومي، ژبني، نژادي، مذهبي او گوندي تمايلات شامل دي) داسې ښکاري، چې که ژر تر ژره ورته د حل لارې ونه مېندل شي، او د ولسي جرگې غړي اوس هم د مسؤوليت احساس ونه کړي، لرې نه ده چې ولسي جرگه د ولس په منځ کې خپل پاتې اعتبار او باور هم له لاسه ورکړي.

د ولسي جرگې قدرمن غړي بايد په دې وپوهېږي، چې هېواد ته يې د دوستۍ تر پردې لاندې څومره له غرضه ډک پر زهرو لړلي لاسونه راغزيدلي دي او څومره شوم او د افغانانو له ځانه د بې ځانه کولو ناولي او کرغېړن اهداف لري.

زمونږ زياتره ښاغلي سياسي کارپوهان چې کله له رسنيو سره خبرې کوي، دومره سرسري او پر احساساتو بناوي، چې له دښمنيو زېږولو او راولاړولو پرته ددې مظلوم او جنگ ځپلي ملت لپاره هېڅ گټه نه لري.

ددې پر ځای چې ددې ټوټه او د ځان پر غوښو اخته ملت د يووالي او وروروليٰ لپاره عملي گامونه پورته شي او تر يوه واحد شعار لاندې دغه مظلوم او دردېدلي ملت د يووالي، وروروليٰ او پرمختگ په لور روان شي، هره ورځ له نويو ناورينونو سره مخامخ کېږي.

بالاخره د دغو زخمونو د درملنې احساس به څوک کوي؟ لا چې د ولس استازي پخپلو منځو کې د خپلې داخلي کړنلارې له مخې د يوه رئيس په ټاکنه سره نه جوړېږي.

د افغانستان لانجه يوازې د اعتماد له لارې حل کيدلې شي

محمد خليل

دا واقعيت دې د زړه له تل نه ومنل شي چې په افغانستان کې له يوه سوچه اسلامي حکومت پرته بل هېڅ حکومت حکمراني نه شي کولې ځکه چې د افغانستان مطلق اکثريت پخپل هېواد کې يوازې او يوازې اسلامي شريعت او اسلامي کلتور غواړي، له دې پرته له نورو نظامونو سره سخت حساسيت او کرکه لري، له هر هغه عمل او کړنې نه کلکه ډډه کوي چې د کفر پولو ته رسوي او له ايمان نه يې وباسي. هر ډول کړاوونه په ورينه تندۍ مني خو د نورو تر نظام لاندې ژوند تېرولو ته نه چمتو کېږي، مرگ په سر سترگو مني خو له خپلې اسلامي عقيدې نه لاس نه اخلي.

کېدی شي د گوتو په شمار داسې عناصر هم موجود وي چې هغو په دې کار کې بې تفاوته وي او خپلو شخصي گټو په خاطر له نورو نظامونو سره سازش وکړي مگر د افغانستان مطلق اکثريت وگړي له خپل سپېڅلی دين نه پرته بل نظام ته په هېڅ حالت کې غاړه نه ږدي.

دا هم کېدلی شي چې ډېر افغانان گنهگار وي او عملاً د گناه په کارونو کې ککړ وي خو هغوی هميشه د عمل په ډگر کې دخپل ايمان امتحان ورکړې او د اسلام او باطل ترمنځ په جنگ کې تل د جهاد په لومړی صف کې جنگېدلي دي.

افغانستان يواځينې هېواد دی چې د تاريخ په هره پړاو کې وربانديې گټو پراختيا غوښتوونکو يرغلگرو ځواکونو بريدونه کړی دي او لاندې کولو لپاره يې خپل آخري زور وهلې مگر افغانانو تل د خپل ايمان او عقيدې پر مټ د خپلې خاورې دفاع کړې، نه د چا زور ته تسليم شوي او نه زر ته.

د يوولسم سپتمبر له پېښې نه وروسته چې امريکا او ناټو غړو هېوادو پوځيانو پر افغانستان يرغل وکړ له همغې ورځې نه تر ننه پورې چې کومه جگړه په افغانستان کې روانه ده ددې تر شا هم يوازې همدا انگيزه مضمره ده چې پر هېواد يې پرديو هېوادو پوځونو يرغل کړې او استقلال او عقيده يې په خطر کې اچولی ده.

که څه هم امريکا او ناټو غړيو هېوادونو د افغانانو ددغې انديښنې د ليری کولو لپاره ډېرې هلې ځلې کړې دي او خپل دغه جگړه يې يوازې او يوازې د ترهگرو په خلاف توجيه کړېده مگر تراوسه نه ده توانيدلی چې د افغانانو اعتماد ترلاسه، او په دې خبره قانع کړي چې هغوی نه د افغانستان د لاندې کولو لپاره راغلي او نه هم په افغانستان کې د پاتې کېدو نيت لري.

په لومړيو کې د امريکا او ناټو غړو هېوادو په خلاف د افغانانو کرکه لږه وه، هغوی دا گڼل چې شايد ددوی جگړه د محدودو خلکو په خلاف او محدودو اهدافو لپاره وي خو د وخت په تېريدو سره امريکا پخپل لاس د افغانانو حساسيتونه راوپارول او داسې لاسوهنې پيل کړې چې افغانانو دا جگړه د خپلې عقيدې او آزادۍ په خلاف وگڼله هغوی چې د افغانستان په داخلي چارو کې څومره زياتې لاسوهنې وکړې همغومره د افغانانو حساسيت يې راوپاراو او په ميدان کې جنگېدونکي مخالفين په آساني سره وتوانيدل چې ډيری افغانان په دې خبره قانع کړي چې که د بهرنيو پوځيانو په خلاف په جگړه کې دهغوی مرسته ونکړي نو خپل استقلال او اسلامي عقيده به له لاسه ورکړي، د امريکا او دهغې د ملگرو هېوادو د پرله پسې نه توجيه کېدونکو غلطيو پخپله دېته لاره هواره کړه چې د مخالفينو صف ورځ په ورځ غښتلی او د جگړې ساحه پراخه کړي.

که له واقعيت نه سترگې پټې نکړو نو لدې پرته بل څه نه شي ويل کېدې چې اوس د افغانستان روانې جگړې د آزادي او مذهبي جگړې رنگ خپل کړې دی او دا تر هغه پای ته نه شي رسيدلې تر څو چې په دې اړه ټولې هغه انديښنې له منځه نه وي وړل شوي چې د افغانستان د زياترو وگړو په زړونو کې پيدا شوي دي.

بل لورې دغه جگړه له خپل ضرورت نه دومره زياته اوږده شوه چې د افغانستان د ولس ترڅنگ د امريکا او ناټو غړو هېوادو ولسونه هم لدېنه تر پوزې راغلل، نو ځکه غوښتنه يې داده چې څومره ژر کيدلې شي د حقايقو په نظر کې نيولو سره دغه انسان وژونکی تاوانې جگړه پای ته ورسول شي.

اوس بايد ټول فکر په دې خبره متمرکز شي چې دغې جگړی ته څنگه او په څه ډول د پای ټکی کېښودل شي او هغه به کوم اساسي توکي وي چې د دواړو لورو اعتماد او باور پر ځای کړي؟

دا واقعيت بايد ومنل شي چې موجوده نړۍ داسې راغونډه شوې چې د يو کلي بڼه يې خپله کړی ده، د نړۍ ټول ولسونه د يو بل له تعاون او مرستې پرته خپل ژوند په آرامي او خوشالي سره نه شي تيرولې بلکې د يو بل اخلاص او بسپنې ته اړتيا لري، دغه مقصد ته د رسېدو يواځينی لاره روغه جوړه او د سولې په فضاء کې اوسېدل دي.

د سولې او مفاهمت په فضأ کې چې کومې گټې تأمينډلې شي د جگړې په فضأ کې هرگز نه شي تأمينډلی. جگړه گټه نه بلکې تاوانونه رازېږوي او تاوانونه د ولسونو اقتصاد او ژوند تباه کوي، دې لپاره چې له نورو هر اړخېزو تاوانونو څخه خلاصون ومونډل شي ددې خبرې اړتيا ليدل کېږي چې امريکا او ناټو غړي هېوادونه د افغانانو په زړونو کې د راپيدا شويو انديښنو د ليری کولو لپاره عملي ثبوتونه وړاندې، او له افغانستانه د وتلو لپاره د ملگرو ملتو له لارې د خپلو پوځونو د ويستلو حتمي مهال ويش اعلان کړي.

لدې وروسته کيدلې شي چې دواړه لورې د قانون په چوکاټ کې د متقابله احترام په بنياد پخپلو کې خپلې اړيکې ټينگې او خپل روا ضرورتونه د يو بل په مرسته پوره کړي ځکه چې په دې صورت کې به افغانانو سره دا انديښنه نه وي چې هېواد يې د امريکا له خوا اشغال شوې بلکې په دې احساس به له امريکا او نورو غربي نړيو سره د دوستي اړيکې ټينگوي چې افغانستان يو خپلواک هېواد او د خپل سرنوشت د ټاکلو حق يې پخپلو لاسو کې دی.

عوامل اصلی قیام مردم مصر علیه "حکومت آن کشور"

فضل الباری "ممتاز"

مصر کشوری در دنیا که دارای تاریخ و تمدن بوده و نزدیک به چهار قرن رهبری جهان اسلام را به عهده داشته بزرگترین مرکز تحصیل علوم اسلامی پوهنتون "ازهر شریف" در آنجا موقعیت دارد و از حیث داشتن منابع بشری و افر و نیروی انتظامی قوی مرکز ثقل کشورهای عربی را تشکیل میدهد اولین دانشمند مسلمان که جایزه نوبل را بدست آورده است احمد جبریل کیمیادان مصری بوده مبرهن است که کشور اسلامی مصر در نجات و بیداری مسلمانان جهان در ادوار مختلف تاریخ نقش محوری داشته که نمی توان از آن انکار کرد و بخاطر اثبات این موضوع میتوان از واقعات تاریخی و سرنوشت ساز شکست مغل (ملک مظفر) شکست فاحش صلیبی ها توسط ملکه مصری شجره الدر و تأسیس حرکت جهانی اخوان المسلمین در وقت حساس یعنی سقوط خلافت عثمانی نامبرد. از این رو ثبات و استقرار کشور اسلامی مصر برای مسلمانان جهان هایز اهمیت خاص بوده بناءً بنده فقیر خواسته تا چند سطری راجع به علل و انگیزه انکشافات اخیر در "مصر" را بنویسم تا خوانندگان محترم در جریان حوادث و انکشافات اخیر کشور برادر اسلامی مصر قرار گیرند. اینک ذیلاً بشکل فشرده توضیح میگردد.

الف: مشکلات مزمن و فراگیر اقتصادی

ب: فساد اداری

ج: سلب استقلالیت و حقوق مدنی شهروندان بدون شک که مشکلات اقتصادی فراگیر و مزمن علت اصلی انکشافات اخیر در کشور مصر بوده است زیرا که کاسه ای صبر مردم مصر لبریز شده دیگر توان زیستن در چنین وضعیت فلاکت بار را ندارند کشور مصر دارای هشتاد میلیون نفوس یا جمعیت بوده که اکثریت آن را جوانان تشکیل میدهند قابل ذکر است که ۳۳٪ جمعیت مصر در عمر ۱۴ سالگی قرار داشته ۶۲٪ بین سنین ۱۵ سالگی و ۶۴ سالگی و فقط ۴،۳٪ جمعیت در عمر ۶۵ سالگی قرار دارند نفوس مصر هر سال به نسبت ۲،۵٪ افزایش یافته که از هر ۱۰۰۰ نفر ۲۵ نوزاد تولد میگردد ۱۸٪ نفوس مصر بیکار بوده (۱۴) البته رقم ارائه شده بسیار بلند بوده و نشان دهندهٔ ضعف و ناکامی حکومت آن کشور در بخش استخدام و شغل زدای می باشد ۳۶٪ مردم یعنی ۲۹ ملیون از آب پاک و نوشیدنی محروم هستند ۴۳٪ مردم از نعمت سواد محروم می باشند به اساس یک گذارش جدید صندوق بین المللی پول یا IMF حکومت مصر باید حداقل ۹ ملیون شغل ایجاد کند تا مشکل بیکاری فایق آید براساس یک گزارش دیگری صندوق بین المللی پول مصر عقب مانده ترین مارکیت کار را دارا بوده و نظام تعلیمی آن با معیارهای امروزی مارکیت کار هم سوی نداشته و نیازمند اصلاحات میباشد اگر ما به داشته های فوق نظر انداخته و آن را بطور درست تحلیل کنیم در میابیم که حکومت مستبد و تاریخ زده مصر به رهبری مبارک در طول زمامداری سی ساله اش چندان کاری مفیدی را برای آسایش و رفای مردمش انجام نداده بلکه تمام انرژی اش را برای قلع و قمع مردمش به خرج داده تا عمری زمامداری اش را طولانی تر سازد از طرف دیگر فساد اداری در دستگاه حکومتی مصر به اوج خود رسیده و نظام خدمت رسانی حکومت به مردم را فلج ساخته و مردم مجبور شدند تا به خیابان ها برآیند دارو دسته حزبی و حواریون حسنی مبارک رئیس جمهور مصر تمام هست و بود مردم را به یغما برده و به جاهای دیگر انتقال نموده است تا در روزهای مبادا از آن استفاده نمایند واه به حال مردم فقیر و بیچاره مصر که برای یک لقمه نان سرگردان هستند و از ساده ترین سهولیت های زندگی برخوردار نبوده شایان ذکر است که از مدت ۲۰ سال به این طرف در مصر حالت اضطراری نافذ بوده و مردم از کوچک ترین حقوقی شهروندی و استقلالیت برخوردار نبوده و حق آزادی بیان را بطور کامل از آن ها سلب نموده و حتی حق انتقاد را بالای کارکردهای حکومت شان نداشتند پس طبیعی است که در چنین حالت آخر کاسه صبر مردم لبریز شده و علیه حکومت قیام می نمایند از جانب دیگر مردم بخاطر حمایت و خضوع نظام مبارک در برابر مظالم اسرائیل علیه مردم مظلوم فلسطین خشمگین بوده و منتظر فرصت بودند تا دست به قیام دسته جمعی زده و خواهان سقوط هر چه زودتر رژیم کنونی شدند تا از شر رژیم فعلی رهایی یافته و به زندگی شان بشکل عادی و نورمال ادامه داده و در قطار ملت های متمدن جهان قرار گیرند.

په شمال کې ملیشه ډلو د ګلم جم بدنامي ملیشې یادونه تازه کړل

عبیدالله صافي

تېره اوونی په افغانستان کې د بشري حقونو یوې څارونکی ډلې په خپل رپوټ کې د ګڼو نورو افغانانو په شان د دولتي ملیشه ډلو کړه وړه جنایتکارانه وبلله او دا تور یې ورباندې ولګوله چې په شمالي ولایتونو کې د خلکو پر مال او ناموس هم تېری شوي. رپوټونه وایي چې دغو ملیشه و په کندز او بلخ ولایتونو کې ډېر خلک ځورولي دي ددغو ولایتونو د اوسېدونکو په وینا دغه ملیشه د ډاکتر نجیب د واکمنۍ د وروستیو کلونو د ملیشه و په څېر ظالمانه کړنی ترسره کوي، نه د چا پر مال سرفه کوي نه دچا په ناموس او عفت.

د بشري حقونو د څارونکی ډلې دغه رپوټ ډېر زړه بوګنوونکي او غموونکې دی، لوړ پوړیو چارواکو ته پکار دي چې په دې اړه ژر تر ژره څېړنې وکړي او عاملینو ته له عبرت نه ډکه سزا ورکړي څکه چې که دداسې پېښو په وخت مخه ونه نیول شي نو یو ځل بیا به د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ګلم جم ملیشې په څېر باغبانه او ظالمانه کړنې سراوچت کړي، د هېواد امن او امان به خراب شي، ولس به د ملیشه و د ظلم په میچنه کې دل شي او دا به د افغانانو لپاره یو بل عذاب وي چې ورسره مخامخ کېږي.

داسې معلومېږي چې چارواکي د خپل مسؤولیت په ترسره کولو کې د غفلت ښکار شوي دي او په صحیح طریقه د ادا کولو اهلیت نلري، که نه نو داسې څنګه کیدلې شي چې د ولس او خاورې ساتوونکې په نوم جوړه شوې قومي ملیشه دې د خپل ولس په مال، ځان او عزت حملې وکړي او هر څه دې تر پښو لاندې کړي؟ ! پکار خو دا و چې د ملیشو تېر تاریخ ته په کتنې سره چې په هېواد کې ډېر بد نوم یې پرېښې دی د ملیشو له جوړولو څخه کلکه ډډه کړی وای، خو چې ډډه یې ونه کړه نو بیا داسې بې لګامه او سر بخوده پرېښې نه وای چې د ګلم جم ملیشو په څېر د خلکو پر ځان، مال او عزت لوبې وکړي.

دا هر څه په دې واقعیت دلالت کوي چې چارواکی یوازې وسله وال کسان زیاتول غواړي خو د ملت هېڅ غم ورسره نشته.

له لومړی ورځې نه د افغانستان د حکومتونو اصلي مشکل همدا پاتې شوی دی چې نه پر خپل ځان قانون تطبیق کړی، نه هم پر ټیټ پوړو چارواکو او نورو دولتي مامورینو، نه دچا احتساب کړی او نه یې څوک مجازات او مکافات کړي، بلکې دهر چا چې څه زړه غوښتي دی له څه ویرې پرته یې ترسره کړي دي.

د جرایمو مخنیوې هله کېدلې شي چې قانون پخپل بشپړ قوت حاکم وي او قانون هله حاکمیدلې شي چې په لومړی ګام کې لوړ پوړي چارواکی قانون پخپل ځان لازم وګرځوي او هر کار د قانون په چوکاټ کې ترسره کړي. خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې دغه اصل په نظر کې نه دې نیول شوې. همدا لامل دی چې هر زوره ور او مقتدر تن په پوره بې پروائی په کمزورو او بې دفاع وګړو د ظلم میچنه ګرځوي او خپل ټول هوس له همدې لارې ترسره کوي.

که چارواکي او عدلي ارګانونه په هېواد کې واقعاً د هر ډول ناروا پېښو او جنایتونو مخه نیول، او خپل ولس ته د عدل او امن فضأ قایمول غواړي نو په هېواد کې دې د دا ډول د بې مسؤولو ملیشو د جوړولو چارې په سملاسی توګه بندې کړي او ولس دې دهغوی د ظلم او تېری له منګولو څخه خلاص کړي له بلې خوا دې د قوانینو د نافذولو او مجازاتو پروسه دی هم ګړندی کړي څکه چې د قوانینو نفاذ یواځینی مؤثر قوت دی چې د ټولو سرغړونو او تېریو مخه په آسانی سره نیولې شي. که داسې نه کوي نو بیا ددې ښکاره مطلب همدا دی چې چارواکي پخپل لاس د هېواد د امنیت د تباه کولو او ګډوډیو لپاره ملا تړلی ده.

چارواکی دې دا حقیقت ومني چې د قانون د نه تطبیق او د ولس له مسایلو نه د دروند غفلت له کبله د هېواد استحکام له سخت ګواښ او خطر سره مخامخ شوی دی که چېرته ددې مخه په وخت ونه نیول شي نو د فساد او بدامنی توپاني څپې به دومره طغیانی شي چې د حکومت ایوانونه او پکې ناست لوړ پوړی چارواکي به هم د فساد او بدامنې په دې خړ سیلاب کې لاهو شي.

د اسلامي تاریخ لومړنی پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(پنځمه برخه)

س۶۸: چا د لومړي ځل لپاره د خراج (د ځمکې د حاصل یوه اندازه حکومت ته ورکول) نظام جوړ کړو؟

ځ: عمر د خطاب زوي د لومړي ځل لپاره د خراج نظام جوړ کړو.

س۶۹: د پیغمبر علیه السلام د بیبیانو نه کومه یوه لومړی وفات شوه؟

ځ: بي بي خدیجه د پیغبمر علیه السلام د بیبیانو نه لومړی بیبي وه چې وفات شوه.

س۷۰: چا لومړی خپل اسلام ښکاره کړو؟

ځ: عمر د خطاب زوي لومړی هغه څوک و چې خپل اسلام یې ښکاره کړو.

س۷۱: چا ته لومړی د امیر المؤمنین لقب ورکړل شو؟

ځ: عمر د خطاب زوي رضی الله عنه ته.

س۷۲: چا لومړی هجري تاریخ ټاکلی دی؟

ځ: عمر د خطاب زوي رضی الله عنه.

س۷۳: چا د لومړي ځل لپاره په اسلام کې د ښارونو لپاره والیان ټاکلې؟

ځ: پیغمبر علیه السلام لومړی شخص و چې د ښارونو لپاره یې والیان ټاکلي دي.

س۷۴: د پیغمبر علیه السلام په اصحابو کې لومړي غوره اصحاب څوک دي؟

ځ: څلور خلیفګان د پیغمبر علیه السلام د اصحابو نه لومړي غوره اصحاب دي، وروسته له دوي نه عشره مبشره لکه: ابو عبیده د جراح زوي، سعد د ابي وقاص زوي، طلحه او زبیر رضي الله عنهم، مګر په ټولنیز ترتیب کې په اجمالی شکل سره مهاجرین د انصارو نه غوره دي او فضل او غوره والي کې هغه انصار چې لومړی اسلام ته داخل شوي له وروستیو مهاجرینو نه غوره دي. تاریخ لیکونکو د پیغمبر علیه السلام اصحاب په څو طبقو ویشلي دي: لومړی طبقه هغه اصحاب دي چې لومړی مسلمانان شوي لکه: خدیجه، علي، زید، ابو بکر چې دار ارقم ته نه وو پاتی شوي. دوهمه طبقه د دار ارقم اصحاب دي چې عمر رضی الله عنه هم هلته مسلمان شوی دی، دریمه طبقه هغه اصحاب دي چې حبشي ته یې هجرت کړی، څلورمه طبقه د اولې عقبی اصحاب چې د انصارو لومړني خلک دي، پنځمه طبقه د دوهمی عقبي اصحاب دي، شپږمه طبقه د دریمي عقبي اصحاب دي چې اویا کسان وو، اومه طبقه د بدر کبری اصحاب دي، اتمه طبقه هغه صحابه دي چې د بدر او حدیبي غزا تر منځ یې هجرت کړی دی، نهمه طبقه د بیعة الرضوان اصحاب دی، لسمه طبقه هغه اصحاب دي چې د حدیبي نه وروسته او د مکی د فتحی نه یې مخکې هجرت کړی دی، یولسمه طبقه هغه اصحاب دي چې د مکې د فتحي په ورځ مسلمانان شوی دي وروسته له دي دولسمه طبقه هغه ماشومان دي چې د پیغمبر علیه السلام په زمانه کې پیدا شوي او پیغمبر علیه السلام یې لیدلی دی.

س۷۵: چا لومړی د روژې په میاشت کې د تراویح لمونځ لپاره یو امام پسې خلک را ټول کړل؟

ځ: عمر رضي الله عنه لومړی هغه څوک و چې خلک یې د روژې په میاشت کې د تراویح لمونځ لپاره یو امام پسې راټول کړل.

س۷۶: د پیغمبر علیه السلام له خلیفګانو نه چا د لومړي ځل لپاره پیسې جوړی کړي؟

ځ: عمر رضي الله عنه او دا هم ویل شوي چې عبد الملک د مروان زوي د لومړي ځل لپاره پیسې جوړې کړي خو اول صحیح دی.

س۷۷: چا لومړی په بغداد کې مجمع علمي (بیت الحکمه) تاسیس کړه؟

ځ: غوره ځواب دا دی چې هارون الرشید تاسیس کړي، که څه هم ډیر شهرت یې د مامون په وخت کې درلود.

س۷۸: لومړی په اسلام کې کوم هوان ویشتل شوی دی؟

ځ: لومړی هوان په اسلام کې د طایف په غزا کې ویشتل شوی، کله چې پیغمبر علیه السلام د هغه خلکو په لټه کې چې د حنین غزا پر مهال تښتیدلي وو او د طایف په قلعه ګانو کې پټ شوی وو، طایف ته ولاړ هلته یې هغوي محاصره کړل او هوان یې د لومړي ځل لپاره و کارولو.

س۷۹: چا د لومړي ځل لپاره د خلکو د تادیب په موخه دره و کاروله؟

ځ: عمر رضي الله عنه لومړی شخص و چې د خلکو د تأدیب په موخه یې دره کارولې ده.

س۹۰: لومړی قصاص په اسلام کې کوم و؟

ځ: د بني لیث قبیلي یو سړي د بني هذیل د قبیلي سړی وواژه، پیغمبر علیه السلام دهغه قاتل قصاص کړ، او دا په اسلام کې لومړی قصاص و.

س۹۱: چا د لومړي ځل لپاره مسجد حرام جوړ کړو؟

ځ: دوهم خلیفه عمر رضي الله عنه د لومړي ځل لپاره مسجد حرام جوړ کړو.

س۹۲: لومړنی انسان چې الله جل جلاله پر هغه سلام ویلی څوک و؟

ځ: د پیغمبر علیه السلام میرمن خدیجه د خویلد لور رضی الله عنها.

س۹۳: په اسلام کې چا د لومړي ځل لپاره د ډاکخاني نظام جوړ کړ؟

ځ: دوهم خلیفه عمر د خطاب زوي رضی الله عنه.

س۹۴: لومړی خلیفه څوک و؟

ځ: ابوبکر صدیق رضی الله عنه.

س۹۵: چا د لومړي ځل لپاره د اسلامی دولت د سرحدونو د ساتلو په موخه اردو جوړه کړه؟

ځ: عمر د خطاب زوي رضی الله عنه.

س۹۶: چا ته د لومړي ځل لپاره په جنت کې د کور درلودلو زیری ورکړ شو؟

ځ: د پیغمبر علیه السلام میرمن خدیجه د خویلد لور رضی الله عنها.

(نور بیا)

شهادت اوونيزه

خپروونكي اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانگه
د امتياز خښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله كامه وال
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)
داړيكې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ايميل:
shahadatnews_kabul@yahoo.com
ديزاين: خواجه وحيدالله
د كتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

افغانستان د نړيوالو رسنيو په هنداره كې

د باستن گلوب ورځپاڼې د براين بينډر په قلم يوه مقاله خپره كړې ده چې گرانو لوستونكو ته وړاندې كېږي:

باستن گلوب:

په مقاله كې د امريكايي سناتور جان كيري له قوله راغلي، چې بلاخره بايد په دې هيواد كې د امريكا په مشرۍ د روانې جگړې بيا كتنه وشي.

ده چې يوه وخت په افغانستان كې د جگړې ملاتړ كاوه په دې هېواد كې پرمحدودو اهدافو د تمركز او د لږشمير عسكرو غوښتنه كړې ده.

دې امريكايي سناتور په يوه مركه كې ويلي، هغه څه چې زه ډير ورسره مخالف يم د داسې يوې پاليسي تعقيب دی، چې يوازې د دې لپاره، چې اوس نو جوړه شوې ده عملي كيږي.

باستن گلوب د سناتور كيري له قوله ليكلي، چې دې ټولو مسايلو ته له خپله نظره گوري او د ويتنام له جگړې د خپلو تجربو په اساس قضاوت كوي.

دې امريكايي سناتور زياته كړې، ځيني خلك غواړي، چې له افغانستانه ويتنام جوړ كړي او ځيني خلك دلته د ورته ازموينو ترسره كول غواړي خو دا ويتنام نه دی.

له ويتنام څخه د امريكا كورني امنيت ته تهديد نه وو متوجه او نه يې هم ستراتيژيكي گټې هلته وې خو په افغانستان كې دا دواړه مسايل شته.

باستن گلوب په يوه بله مقاله كې په افغانستان كې د ودونو پر مصارفو ليكلنه كړې.

ورځپاڼه ليكي د سلطان محمود فيض په نوم د كار او ټولنيزو چارو د وزارت د يوه كاركونكي د واده كيسه كړې.

په مقاله كې ليكلي، لږترلږه زر تنو ته بلن ليكونه استول شوي وو خو ديارلس سوه تنه ميلمانه را ورسيدل. صالون د قنيدلونو په رڼا ښكلې شوی وو. خلكو كباب او قابلي او پيپسي وخوړل او وڅښل.

هنرمند يورنگه د عاشقی سندرې ويلې. ناوې ته بيلا بيل ډيزاينونه گينې ور پورې وې. د ناوې مور ژړل. د واده د مصرف بل په دېرش زره ډالره اوښت.

زوم سلطان محمود فيض ۲۳ كلن دی او په مياشت كې درې سوه ډالره معاش لري.

فيض باستن گلوب ته ويلي، افغانان فكر كوي، چې واده په ژوند كې يو وار وي نو ښه مصرف بايد وكړي. حتی كه بې وزلې خلك هم وي په واده كې د زيات مصرف هڅه كيږي.

فيض ويلي، اوس يوېشتمه پيړی ده خو افغانان لا هم په زړو رواجونو كې ښكيل دي.

مثلا، دی يې كورنی مجبور كړ، چې د كابل په يوه تر ټولو قيمتي هوټل ممتاز كې واده وكړي.

فيض له باستن گلوب سره په خبرو كې خاندي او وايي، حتی د كيك پرې كولو لپاره مې خپلې خورته ۷۵ ډالره وركړل چې ترڅو چاقو راته راكړي.

باستن گلوب ليكي د افغانستان په څير جنگ ځپلي هيواد كې واده داسې دی لكه دوه مخې سكه. په يوه مخ يې د راتلونكې لپاره هيلې او په بل مخ يې له انفلاسيون سره د دې هيواد مبارزه وهل شوي دي.

افغانستان حق دارد با هر ...

دادند، دروازه های خود را به روی افغان باز كردند. به گفته قريشی آنها به ميلون ها مهاجر افغان جا دادند و حتی تا حال بيش از سه مليون مهاجر افغان در اين كشور زندگی می كنند.

وزير خارجه پاكستان گفته است آنها در حال حاضر نيز از لحاظ مالی و بشری در بازسازی افغانستان سهم می گيرند. وی خاطر نشان ساخته كه افغانستان و پاكستان دين، فرهنگ، زبان و اقوام مشترك دارند كه به گفته او هند اين همه را ندارد.

شاه محمود قريشی همچنين گفته است پاكستان بهای سنگين بشری و مالی را بخاطر افغانستان پرداخته و نقش پاكستان در معضل افغانستان اجتناب نا پذير است. وی گفته اگر وضعيت در افغانستان بهبود يابد، به نفع پاكستان خواهد بود اما اگر وضعيت در اين كشور خراب شود آسيب آن به پاكستان نيز می رسد. اما به گفته وی هند از افغانستان دور تر است.

قريشی در پاسخ به اين پرسش كه پاكستان خواهان چه نقش در افغانستان است گفته است، هيچ نوع نقشی در افغانستان نمی خواهند. وی گفته آنها در زمينه فراهم نمودن تسهيلات در افغانستان نقش بازی می كنند اما به افغان ها نمی گويند كه چه كنند.

وی ابراز اميدواری كرده است كه حكومت كنونی افغانستان بتواند كه به دنبال خروج قوای بين المللی وضعيت در اين كشور را بهبود ببخشد.

وزير خارجه پاكستان تاكيد كرده است كه نزاع افغانستان حل نظامی ندارد. شاه محمود قريشی گفته برای حل اين نزاع به راه حل های سياسی و مصالحه نياز است و به همين علت به گفته او پاكستان از پروسه مصالحه به رهبری خود افغانها حمايت می كند.

القاعده به خامخا ماتېږي خو ...

افغانستان كې وي.

اوباما تېره مياشت د امريكا خلكو ته په خپله كالنی وينا كې د جولای له مياشتې له افغانستانه د شاوخوا يولك امريكايي پوځيانو د ايستلو د بهير د پيلولو او افغان ځواكونو ته د خپل هيواد د امنيتي چارو د سپارلو ژمنه كړې وه.

اوباما د افغانستان د ولسمشر حامد كرزي له لوري له اداري فساد سره د مبارزې په باب وويل: باور لري چې ولسمشر كرزی خپل هيواد او له امريكا سره اړيكو ته پام لري.

ده په عين حال كې وويل كرزی بايد په خپل حكومت كې لوی تغيير راولي څو په اوږدې مودې كې د افغانستان د خلكو په نزد مشروعيت ولري.

د اداري فساد مختيوی د افغانانو د خپلولو او پر خپل حكومت د اعتماد كولو لپاره ضروري بلل كېږي.

هر كس كه خواستار ثبات در ...

حاضرين در اين كنفرانس گفت: در سال ۲۰۱۱ با شاهد چرخشي بزرگ در تغيير

تمركز از حمايت نظامي به حمايت سياسي باشيم.

وستروله همچنين بر اين موضوع تاكيد كرد كه آلمان حتي پس از سال ۲۰۱۴ و با پايان خروج نيروهاي نظامي به حمايت از افغانستان ادامه مي‌دهد تا اين كشور بتواند امنيت خود را تامين كند.

وي افزود: هر كس كه خواستار ثبات در افغانستان است، نبايد فراموش كند كه ماموريت (ما) پس از سال ۲۰۱۴ به پايان نخواهد رسيد.

پيش از اين نيز پارلمان آلمان با ۴۱۹ راي از مجموع ۵۷۹ راي با ادامه ماموريت نظامي در افغانستان موافقت كرده بود.

دولت آلمان نيز پيش از اين ماموريت اين كشور در افغانستان را تا يك سال آينده تمديد كرده بود و بنابر اين فيصله، تا ۵ هزار و ۳۵۰ سرباز آلماني مي توانند تا يك سال آينده در منطقه هندوكش مستقر شوند.

همين اكنون در حدود ۴ هزار و ۶۰۰ عسكر آلماني در افغانستان به سر مي‌برند.

طالبان د جگړې د پای ته رسولو ...

خپور كړی، ويل شوي: طالبان به ښايي تيار وي چې له افغانستانه د تروريزم د اډې په توگه كار وانخيستل شي.

د راپور ليكوالان وايي چې د طالبانو او القاعده شبكې ترمنځ په ۲۰۰۱ كال پر نيويارك او واشنگټن تر تروريستي حملو مخكې هم اختلافونه وو او دا اختلاف د وخت په تېرېدو سره نور هم زيات شوی دی.

الكس ستريك وان او لينسكاټن فليكس څو كاله په اسلام اباد كې كار كړی او د طالبانو د پخواني سفير ملاعبدالسلام ضعيف د خاطرو د كتاب په سمون كې يې هم مرسته كړې ده.

الكس ستريك وان او لينسكاټن فليكس له هغو گوته په شمار امريكايي كارپوهانو څخې دي چې وايي په افغانستان كې د جگړې پای ته رسولو يوازينی لار له طالبانو سره د خبرو اترو پيلول دي.

نور امريكايي كارپوهان هم وايي له دې سره سره چې طالبان او القاعده گډ هدف لري خو د دوی ايډيالوژي يوه نه ده او د دوی ترمنځ ستراتيژيك اتحاد شوی څكه نو له طالبانو سره سياسي تماس ښايي د دې سبب شي چې دا دواړه ډلې له يوبل سره جلا شي.

ځيني امريكايي چارواكي ټينگار كوي چې په افغانستان كې د عسكر زياتوالی به طالبان كمزوري كړي او په نتيجه كې به يې روغې ته غاړه كښېږدي.

خو الكس ستريك وان، لينسكاټن فليكس په خپل راپور كې استدلال كوي چې پوځي عمليات به د سولې پروسه نوره هم ستونزمنه كړي.

په دې راپور كې چې عنوان يې دی «د القاعده شبكې او طالبانو ترمنځ تفكيك د بريالیتوب بنسټ دی»، ويل شوي چې د طالبانو پر سيمه ييزو مشرانو او قومندانانو بريدونه به هغو طالبانو ته لار اواره كړي چې رامخكې شي چې له عمره كم او په عين حال كې لا ښخت دريځي دي.دا كسان القاعده ته د نفوذ زمينه لا برابروي.

راپور په افغانستان كې د ناټو له جگړې سره مخالفت نه كوي خو امريكا ته مشوره وركوي چې د جگړې ترڅنگ دې د طالبانو له پخو مشرانو سره اړيكې ټينگې كړي.

د راپور ليكوالانو په كندهار، خوست او كابل كې له يوشمېر طالب مشرانو سره كتلي او له هغوی سره د مركو او خبرو پر بنياد يې خپل څېړنيز راپور چمتو كړی دی.

دوی وايي چې وسله وال طالبان به ښايي له القاعده سره د اړيكو پرېكون د پخلاينې شرط ونه گڼي خو د خپل امنيت د ضمانت غوښتنه به خامخا وكړي.

راپور زياتوي چې د طالبانو مشرانو د خپل رژيم له پرزېدو نژدې يو كال وروسته په پاكستان كې غونډه وكړه او له نوي حكومت سره يې د سولې په بهير كې پر گډون موافقه وكړه خو د دوی دې پرېكړې ته توجه ونه شوه ځكه چې نه د افغانستان حكومت او نه هم امريكايي چارواكو له طالب مشرانو سره د تماس اړتيا ليدله.

په راپور كې دا هم ويل شوي چې هماغه كال د جلال الدين حقاني د كورنی يو غړی د خبرو لپاره كابل ته لاړ خو هلته ونيول شو او بد چلند ورسره وشو.

په راپور كې بيا بيا ټينگار شوی چې القاعده نړيوال هدفونه لري خو طالبان د خپل وطن په حد كې فكر كوي.

د ناټو قومندان وايي ۹۰۰ وسله ...

كلنې بلوا وروسته طبيعي ده چې دا به په ټولو كچو سخته، پېچلې او په عين حال كې ډېره انساني پروسه وي."

تېر كال د امريكا له لوري افغانستان ته د دېرش زره اضافي عسكرو لېږلو او په كندهار او هلمند كې له سختو جگړو وروسته د افغانستان په جنوبي ولايتونو كې امنيتي حالات ښه شوي او افغان او لوېديځ مقامات هيله لري چې په پسرلي كې به د طالبانو حملې وځپي.

خو رويټرز خبري اژانس وايي، په داسې حال كې چې د افغانستان په ختيځ كې تاوتريخوالی زيات شوی او د دې هيواد شمال او لوېديځو برخو ته هم غځېدلی دی.داسې ښكاري چې طالبان، له القاعده سره تړلې د حقاني شبكه او نورې وسله والې ډلې لا هم تصميم لري چې جگړې ته دوام وركړي.

د رويټرز د راپور له مخې د حالاتو ښه والی له دوو خبرو سره كلك تړلی دی، لومړی له افغانستان سره په خپله پوله كې د وسله والو سخت دريځو د تگ راتگ د مخنيوي په برخه كې د پاكستان مرسته او دوهم په افغانستان كې د حكومت اغېزمنتوب څكه چې په افغانستان كې فاسد مقامات د دې سبب شوي چې ډېر شمېر كليوال وسله والو مخالفانو ته مخه كړي.

جنرال جونز وايي، حاضردمه لږترلږه ۴۵ وسله والې ډلې د سولې په پروسه كې د شاملېدو لپاره په خبرو بوختې دي.

ده دا هم وويل، هغوی چې د سولې له بهير سره يوځای كېږي، بايد جگړه بس كړي، له نورو وسله والو جنگېدونكو ډلو سره اړيكې پرې كړي او د افغانستان اساسي قانون ومني.

د رويټرز له راپور سره سم كوم كسان چې سولې ته حاضرېږي، د گوتو نښې يې اخيستل كېږي، درنې وسلې حكومت ته سپاري خو اجازه لري چې د ځان د دفاع لپاره سپكې وسلې ولري.

د مصر حكومت د اعتراضونو د ...

خو له خبرو وروسته مخالفينو وويل، چې د اصلاحاتو لپاره د حكومت ژمنې كافي نه دي.

د امريكا د بهرنيو چارو وزارت وياند فليپ كرولي پرون وويل، چې د مصر لپاره به سمدستي دانتخاباتو كول گران كار وي. ښاغلي كرولي په مصر كې د يوه نظم پر بنسټ د قدرت د انتقال غوښتنه وكړه:

"كه ولسمشر مبارك نن له واكه ليرې شي، د مصر د اوسني اساسي قانون له مخې څومره چې زه پوهېږم نو په شپېتو ورځو كې دننه بايد انتخابات وشي.

اوس پوښتنه دا ده چې تېرو انتخاباتو ته په پام سره چې كه رښتيا راباندې وايي، ډېر لږ ازاد او عادلانه وو، ايا مصر د آزادو او عادلانه انتخاباتو لپاره تياري لري كنه؟ "

د مصر حكومت د هېواد په اساسي قانون كې د اصلاحاتو په گډون د يولړ امتيازاتو ژمنه كړې ده.

چارواكو تېره ورځ په تنخواگانو او د دولتي مامورينو په تقاعد كې په سلو كې د ۱۵ زياتوالي ژمنه وكړه. له بلې خوا د مصر مينا خبري آژانس راپور وركړی، چې ولسمشر حسني مبارك د روانو مظاهرو په ترڅ كې د خونړي تاوتريخوالي د پېښو په اړه د خپلواكو تحقيقاتو غوښتنه كړې ده.

گزينش رئيس ولسی جرگه باز...

شهزاده شاهد، حفيظ منصور، منور شاه بهادری، عبدالقيوم سجادی و كمال ناصر اصولی به رقابت پرداختند.

عبدالقيوم سجادی با گرفتن ۶۳ رای و امان الله پيمان با دريافت ۵۴ رای به دور دوم انتخابات راه يافتند، اما در دور دوم آقای سجادی با كسب ۸۷ رای و آقای پيمان با بدست آوردن ۶۹ رای نيز توانستند، اكثريت آرا را كسب كنند.

محمد عثمانی رييس موقت ولسی جرگه گفت به روز شنبه باز هم جهت گزينش رييس ولسی جرگه به پای صندوق های رای خواهند رفت.

شورای ملی افغانستان حدود دو هفته پيش افتتاح شد، اما بن بست موجود در ولسی جرگه هم چنان ادامه يافته است.

ملگري ملتونه له راستنېدونكو كډوالو سره خپلې مرستې زياتوي

آزادي راډيو:

د ملگرو ملتونو د كډوالو اداره په پام كې لري، چې له راستنيدونكو كډوالو سره خپلې مرستې پنځوس په سلو كې زياتې كړي.

د يو. ان. ايچ. سي. آر له خوا د وركړل شويو معلوماتو له مخې له دغه زياتوالي سره به د راستنيدونكو كورنيو هر غړي ته يو نيم سل امريكايي ډالره وركول كيږي، حال دا، چې مخكې يوازې سل ډالره وركول كيدې

د دې ادارې د وياند نادر فرهاد په وينا دوی دغه كار د كډوالو حالت ته په پام سره په نظر كې نيولی، چې وكولای شي له كډوالی وروسته خپلې ستونزې تر يوه حده حل كړای شي.

د ملگرو ملتونو د كډوالو د ادارې په وينا تېره ده په روان ميلادي كال چې د كډوالو د بيا راستنيدو بهير پيلېږي، شاوخوا شل زره افغانان له پاكستان او ايران نه هېواد ته راستانه شي.

دغه اداره وايي، له كډوالو سره نه يواځې مالي مرستې كوي بلكې كډوالو ته د سرپناه په برابرولو، روغتيايي مركزونو ته د لاس رسی او د څښاك د اوبو په برابرولو كې هم مرستې په پام كې لري.

دوی په پام كې لري، چې په روان كال كې د كډوالو لپاره شل زره سرپناه جوړ كړي. دا شمېر كورونه هغو مستحقه كډوالو ته وركول كيږي، چې سږ كال او پروسږ كال هيواد ته راستانه شوي دي.

خو د يو. ان. ايچ. سي. آر. له دې اقدام سره سره په پاكستان كې ميشت كډوال لا هم نه غواړي، هيواد ته راستانه شي او د مهاجرت د كارتونو د تمديدولو هڅه كوي.

رونا چې په پېښور كې له ۱۲ كلونو راهيسې اوسېږي شكايت كوي او وايي په پېښور كې د ملگرو ملتونو د كډوالو اداره د دوی ستونزو ته پام نه كوي. دا وايي:

"كډوال د كارتونو د وېش په برخه كې له گڼو ستونزه سره مخ دي، خلك له سهاره تر مازديگره وږي تږي په تمه وي. زه چې ورشم نو د كارت د اخيستو وار نه رارسيږي، پوليس مو هم څوروي.

له ملگرو ملتونو څخه هيله لرو، چې د كارتونو د وېش مهال اوږد كړي، ترڅو دغه ستونزې چې موږ يې لرو خلاص شو."

د كډوالو د بېرته ستنيدو لپاره دا اقدامات په داسې حال كې كيږي، چې د وركړل شويو رپورټونو له مخې همدا اوس زيات شمير راستانه شوي كډوال د سرپناه، بې كاری او بيوزلی نه كړيږي.